# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**۵ سرطان _سال ۱۴۰۱**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

"د افغانستان حکومت له خلکو سره په رښتیا مرسته وکړه"------------------------------------------------------------٤

جلسه کمیته مرز، مهاجرین و قاچاق در وزارت امور مهاجرین دایر شد ----------------------------------------------٥

نزدیک به هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود -----------------------------------------------------------٦

مسوولین UNHCR و برنامه جهانی غذا، ازمساعدتهای شان برای زلزله زده ها، به وزیر امور مهاجرین معلو مات دادند ------------------------------------------------------------------------------------------------------٧

د هسپانيي په سرحد کې ۱۸ تنه مهاجر وژل شوي--------------------------------------------------------------٨

»تر ټولو زيات افغانانو په اروپا کې د پناه غوښتنه کړې« -----------------------------------------------------------٩

ملګري ملتونه افغان زلزله ځپلو سره د مرستې لپاره ۱۰ ميليونه ډالر ورکوي----------------------------------------- ۱۰

خبرنامه

## "د افغانستان حکومت له خلکو سره په ریښتیا مرسته وکړه"

د وزارت ویب سایټ



دغه خبره نن شنبه ۲۶ ذو القعده ۱۴۴۳/ ۵ چنګاښ ۱۴۰۱ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري ټولنې مشر ډاکټر رمیز په پکتیکا ولایت ګیانې ولسوالی کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني او د روغتیا وزیر ډاکټر عباد قلندر سره په ناسته کې وکړه

په دغه سفر کې له ښاغلي رمیز سره د ترکیې هیواد د مرستیال سفیر ترڅنګ د ملګرو ملتونو د ټولو ادارو مشران موجود وو

ښاغلي رمیز وویل: "ما ملګرو ملتونو او د امنیت شورا ته معلومات ورکړل، ما ورته وویل؛ حکومت په کمو امکاناتو په ډېر کم وخت کې هرڅه ته رسیدګي وکړه"

نوموړي وویل؛ په دې وخت کې زمونږ او ستاسو ترمنځ فرق نشته یوازې همغږي ده، او تاسو چې کومې مرستې کړې په دې سره یو اعتماد رامنځته کېږي

نوموړي زیاته کړه د افغانستان خلک خودمختاره او باوقاره خلک دي او ددوی سره باید داسې مرسته وشي چې ځان خودمختاره احساس کړي

ښاغلي حقاني دوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ ددوی دلته له راتګ او بشري مرستو څخه مننه وکړه او ويې ويل: تاسو دلته په راتګ او مرستو رارسولو بشری حق ادا کړ

نوموړي زياته کړه له دغه پيښې پرته په هېواد کې د وروستيو سېلابونو له امله هم پيښې رامنځته شوي، چې بايد توجه ورته وشي

له ناستې وروسته ټولو په شريکه له ټپيانو کورونو څخه ليدنه وکړه، د شهيدانو کورنيو ته يې لاس پورته کړ او خلکو ته يې ژمنه ورکړه، چې هرډول مرستو ته به ادامه ورکړي.

## جلسه کمیته مرز، مهاجرین و قاچاق در وزارت امور مهاجرین دایر شد

ویب سایت وزارت



این جلسه روز شنبه ٤ سرطان سال ١٤٠١ ه ش تحت ریاست الحاج محمد ارسلاح خروتی معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان در مقر این وزارت دایر شد.

دراین نشست نمایندگان وزارت امور داخله، وزارت دفاع ملی، وزارت سرحدات و قبایل، وزارت امور خارجه، وزارت شهرسازی، ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان حضور داشتند .

کمیته مرز، مهاجرین و قاچاق به منظور هماهنگی بهتر، انسجام امور و تامین روابط بهتر با کشور های همسایه و منطقه در جلسه رسمی در ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان تشکیل گردیده است .

**در نشست فوق نمایندگان هر اداره در رابطه به موضوعات کاری مشترک شان با کشورهای همسایه که میزبان مهاجران هستند، وضاحت داده و الحاج محمد ارسلاح خروتی معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین ضمن تاکید به هماهنگی ایجاد یک زبان مشترک در مذاکرات با کشور های همسایه بیان کرد که جلسات کمیته مذکور باید نتیجه بخش باشد و نتایج جلسات آن با اداره امور شریک ساخته شود.**

## نزدیک به هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت




**به اساس گزارش آمریت امورمهاجرین نیمروز ۹۹٤ نفر مهاجر، به تاریخ اول سرطان طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نموده اند.**

**از میان افراد مذکور ۲۸ خانواده ، شامل ۱۳۰ تن و ۵۷۰ تن دیگرافراد مجرد بودند که طور اجباری و ۵ خانواده شامل ١٤ تن و ۲۸۰ تن مجرد بصورت داوطلب واردکشور شده اند.**

**به گفته منبع ازآن میان، ۳۲ خانواده شامل ۵۹ مرد و ۸۳ زن وهمچنان ۵٤۳ تن مجرد راغرض دریافت کمک، به دفتر IOMمعرفی شدند.**

## مسوولین UNHCR و برنامه جهانی غذا، ازمساعدتهای شان برای زلزله زده ها، به وزیر امور مهاجرین معلو مات دادند

ویب سایت وزارت



**نماینده کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ، و معاون نماینده سازمان جهانی خوراک ، دیروز طی جلسه ای در ولایت خوست، ازمیزان کمکهای شان برای الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان معلو مات دادند.**

**در این دیدار هر دو جانب درمورد چگونگی کمک رسانی به خانواده های نیازمند و آسیب دیده ناشی از زلزله اخیر در ولایات خوست و پکتیکا تبادل نظر نمودند.**

**لیونارد زولو نماینده کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان گفت که این اداره برای ٤ هزار خانواده خیمه ، ترپال ، چراغ ، ولوازم آشپزخانه را جهت رفع مشکلات جدی خانوا ده های مذکور به طور عاجل فراهم میسازد.**

**همچنان خانم شا وی لی، نماینده سازمان جهانی خوراک، از ارسال عاجل ۸ عراده موتر حاوی مواد خوراکی را به آسیب دیده گان نیز خبرداده و افزودند که ما با سازمان‌های دولتی و غیردولتی که برای جابجایی مواد کمکی به مناطق آسیب‌دیده مشکل دارند، نیز حاضر به همکاری اند.**

همچنان نماینده های ادارات یاد شده، از همکاری در تهیه آب پاک، ساخت مکاتب و درمانگاه ها و سایر بخش های اجتماعی در مناطق آسیب دیده اطمینان دادند.

## د هسپانيې په سرحد کې ۱۸ تنه مهاجر وژل شوي

دویچه وله

د رسنیو د رپوټونو په حواله د مراکش او د هسپانيې د ملیلیه ښار ترمنځ پوله کې پر سرحدي دیوال د شاوخوا ۲۰۰۰ تنو مهاجرو د هجوم پر مهال ۱۸ تنو يې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.



© Javier Bernardo/AP/dpa/picture alliance

دغه خبر د جمعې (د جنورۍ میاشتې ۲۴ نیټه) په شپه ناوخته د «ال پائیس» په او »لاونګورد» ورځپاڼو، د مراکش ناظور ښار ته نږدې ادارو د څرګندونو په استناد ورکړی دی.

مخکې تر دې د پنځو تنو د وژل کیدو رپوټ ورکړل شوی و. د ملیلیه خودمختاره ښار د هسپانيې پورې تعلق لري، خو د افریقا لويې وچې په شمالي ساحل کې موقعیت لري.

د دغو رپوټونو په حواله، په دې ترڅ کې ۶۳ تنه مهاجر او شاوخوا ۱۴۰ تنه مراکشي پولیس ټپیان شوي دي.

د مراکش د کورنیو چارو وزارت پر مهاجرو تور لګولی دی چې له تاوتریخوالي یې کار اخیستی دی. دوی د جنوبي صحرا د افریقایي هیوادونو مهاجر دي.

د ریپوټونو په حواله ۱۳۳ مهاجر توانیدلي دي چې له شپږ متره لوړ دیوال څخه تیر شي او د هسپانیې خاورې ته ځانونه ورسوي. په هغو ویډیوګانو کې چې په انټرنټ کې خپاره شوي دي، لیدل کیږي چې مهاجر ځوانان په سندرو ویلو او نڅا سره په خوشحالۍ د ملیلیه ښار پر سړکونو منډې وهي. دوی یو مؤقتي کمپ ته وړل شوي دي.

مراکش په ۱۹۵۶م کال کې له فرانسې او هسپانیې څخه خپلواکه شو؛ خو سره له دې هم هسپانیې د مراکش په خاوره کې دننه دوه سیمې له ځان سره ساتلي دي: د ملیلیه ښار او سئوتا چې د جبل الطارق تنګې په ۲۵۰ کیلومترۍ کې واقع دي او مراکش یې د مالکیت د حق ادعا لري.

ګمان کیږي چې دواړو سیمو ته نږدې په لسګونو زره افریقایان چې اکثره یې د سویلي صحرایي هیوادونو اتباع دي، یوه داسې فرصت او چانس ته په تمه دي چې وکولی شي خانونه اروپایي اتحادیې ته ورسوي.

ډیري وختونه په زرګونو تنه په ډله ایز ډول کوښښ کوي چې سرحدي ځواکونه غافل ګیره کړي او له پولې واوړي.

## «تر ټولو زیات افغانانو په اروپا کې د پناه غوښتنه کړې»

دویچه وله

د رویترز خبري آژانس د یو ریپوټ په اساس، اروپایي اتحادیې ته د پناه غوښتنې پر بنسټ مهاجرت او سربیره پر دې له اوکراین څخه د اروپا پر لور د ډیر شمیر انسانانو تېښته زیاته شوې ده.



د «Welt am Sonntag» آلماني ورځپاڼې د شنبې په ورځ د اروپا د پناهندګۍ اداري EUAA د لومړنیو ارقامو په استناد رپوټ ورکړی دی چې د دغې اتحادیې په غړو هیوادونو کې د روان کال د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۱۴ نیټې پورې د پناه غوښتنې شاو خوا ۳۳۹۹۸۴ غوښتنلیکونه ثبت شوي دي.

د پناه غوښتنې تر ټولو ډېر یعنې ۴۲۹۰۰ غوښتنلیکونه د افغانانو له خوا وړاندې شوي .تر افغانستان وروسته په دویم قدم کې د سوریې هیواد پناه غوښتونکي دي چې شمیر يې ۳۴۹۰۰ ته رسیږي او ترجیح ورکوي د آلمان هیواد پر لور خپل سفر ته ادامه ورکړي یا په بل عبارت په آلمان کې پناهندګی ترلاسه کړی.

د اروپايي کمیسیون د چارواکو له خوا د خپرې شوې یوې اعلامیې په اساس په دریم قدم کې وینیزویلایي مهاجر دي چې شمیر يې ۲۲۹۰۰ تنو ته رسیږي او نږدې ټولو يې په هسپانیې هیواد کې د پناه غوښتنه کړې ده.

په روان میلادي کال کې له اوکراین څخه د تښتیدلو کسانو یا اوکرایني مهاجرو له ډلې څخه یوازې ۲۲۷۰۰ تنو يې د پناه غوښتنلیکونه وړاندې کړي دي.

یوه ځانګړې قاعده یا مقرره له جګړې څخه تښتیدلو کسانو ته دا امکان ورکوي؛ بې له دې چې د پناه غوښتنې دوسیه يې باید و ارزول شي، په مستقیم ډول په اروپايي اتحادیه کې موقتي حفاظت ترلاسه کوي.

## ملګري ملتونه افغان زلزله ځپلو سره د مرستې لپاره ۱۰ میلیونه ډالر ورکوي

آزادی راډیو



**په پکتیکا کې د وروستی زلزلې له امله د نړېدلي کور انځور**

**د ملګرو ملتونو یو جګپوړی چارواکی وايي، په افغانستان کې يې له زلزله ځپلیو سره د بشري مرستې لپاره د ۱۰ میلیون ډالرو په ارزښت د بېړنیو بشري مرستو د ورکړې پرېکړه وکړه.**

**د بشري چارو او اضطراري مرستو د همږغی لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال مارټین ګریفېټس پرون په خپل ټویټر کې لیکلي، چې د ملګرو ملتونو د اضطراري صندوق له لارې به دغه لس ملیونه ډالره به د زلزله ځپلو د بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ولګول شي.**

**پرون شنبه له ازبکستان څخه د بشري مرستو دوې الوتکې او له ترکمنستان څخه یوه الوتکه افغانستان ته ورسېده.**

خبرنامه